# د پښتنو او بلوڅانو د وادهٔ د ځينو رسمونو مطالعه د محققينو د تحقيق پهٔرڼا کښې

# A COMPARATIVE STUDY OF THE MARRIAGE RITUALS IN PASHTOON & BALOACH NATIONS

غلام مرتضٰی کاکړ*

**Abstract**: Pashtoons and Baloachs are the primitive nations dwell in the region presently known as Balochistan and share border due to which cultural influences could not be denied.

Considering the importance of the marriage rituals the writer of this paper strives to unpack the similitude found between them with special reference of the customs performed in their marriages.

پښتانهٔ او بلوڅان لکه محققين چې وايي له سوونو کالونو راهيسې پهٔ يو ځای ښکلې پهٔ ښکلې ژوند کوي او له يو بل سره دومره نزدې پاته شوي دي لکه دوه وروڼه چې پهٔيوهٔ کور کښې اوسي. ځکه خو د دې دواړو قامونو د ژوند پهٔ هر اړخ کښې پهٔ مختلفو دودونو کښې اشتراک معلوميږي. خو له ژوند سره تړلي داسې ډېر دودونه شته چې د پښتنو او بلوڅانو يو له بله سره جلا جلا دي او دغه دواړه قامونه له ژوند سره تړلي د د اکثرو ښو رواجونو او عادتونو خيال ساتي او ناوړه رواجونه د زمانې له تيرېدو سره پرېږدي بلکې د اسلامي نظام له راتګ وروسته هم او تر اسلامي نظام راتلو مخکښې هم د دواړو قامونو ډېر دودونه له اسلامي تعليماتو سره برابر او سم را روان دي او تراوسه پورې لا دغه سلسله روانه ده ځکه خو له نوو څېړنو معلوميږي چې د پښتنو د اکثرو قبيلو او د جنوبي پښتونخوا د پښتنو او بلوڅانو ډېر دودونه او اسلامي تعليمات يو له بل سره لازم او ملزوم دي او چرې چې اسلام وي هلته به پښتانهٔ او بلوڅان خامخا وي او چرې چې پښتانهٔ او بلوڅان وي هلته به اسلامي نظام حتماً وي. د دې دواړو قامونو پهٔباره کښې راځي:

ترجمه: "پښتانۀ او بلوڅان پۀډېرو بدو او ښو خويونو کښې سره شريکان دي کوم خويونه چې پۀ يو وحشي او نيم وحشي مهذب قام کښې وي. خو ډېر واره او زيات دوی د يوۀ ښۀ تضاد ښکارندوی وي. دواړه مېلمه پالۀ قامونه دي، دواړه د سترګې پۀبدل کښې سترګې او د سرې پۀ بدل کښې د سرې قائل دي، خو بلوڅان پۀ خپل دښمن باندې مخامخ حمله نۀ خوښوي او پښتانۀ پۀخپل دښمن باندې د شا له خوا حمله نۀ خوښوي. دواړه پۀالله او د هغه پۀ رسول باندې عقيده لري، خو پښتانۀ اکثره د لېونتوب تر حده خطرناک وي، خو بلوڅان بيا پۀلمانځۀ کښې هم د ځان وکيل دروي".(1)

د همـدغو پورتنيـو خبـرو پـۀ رڼـا کښـې د پښـتنو او بلوڅـانو د وادۀ ځينې رسـمونه چـې مشـترک دي او ځينـې هغـه رسـمونه چـې پـۀبلوڅانو کښـې شته پۀپښتنو کښې نشته او ځينې پـۀ پښـتنو کښـې شـته پـۀ بلوڅـانو کښـې نشـته د محقيقنو د تحقيـق پـۀ رڼـا کښـې تـر څېړنـه لانـدې راوړم او ګمـان کـوم چـې د وادۀ ډېـر رسـمونه محققينـو نظـر انـداز کـړي دي، يـوې خـوا تـه محققينـو د پښتنو د وادۀ د رسـمونو پـۀاړه پـۀ خپلـو ليکنـو کښـې ډېـر دودونـه پرېيښـي دي، دغـه حـال د بلوڅـانو د ودونـو هـم دی. د مثـال پـۀډول پـۀ پښـتنو کښـې د وادۀ پۀرسـمونو کښـې تـر ټولـو لـه مخـه چـې د دوو کورونـو پـۀ رشـته بانـدې اتفاق راشي نو تر هرڅـۀ لـه مخـه "هـوکړه" وشـي، کلـه کلـه خـو دغـه "هـوکړه" ډېر وخت برقـراره وي او هـيڅ د نکـاح رسـم نـۀ ترسره کښـېږي خـو چـې کلـه بيـا دوسـتان د نکـاح کولـو رسـم تـه امـاده شـي نـو باقاعـده بيـا د کـوزدې رسومات برابرېږي او نکاح تـړل کېږي. خـو کلـه کلـه داسې هـم وشـي چـې د نکاح تر رسم له مخه دغـه "هـوکړه" بېرتـه د څـۀ وجوهـاتو لـه کبلـه ختمـه شـي او هغه رشته بلکـل خـتم شـي او پـۀ دې کښـې د طـلاق څـرک لا هـم نـۀ وي. د پښتنو د "هوکړې" پۀاړه راځي چې:

ترجمه: "هوکړه دې ته وايي چې د يوې نجلۍ غوښتلو دپاره تر هرڅۀ له مخه پۀ څلورو يا پينځو معززو کسانو باندې مشتمله يوه مرکه وي، که د نجلۍ مور او پلار راضي شي نو د مرکې کسانو تۀ خوږ شی ورکوي يا شربت ورکوي او دعا کوي، پۀدغه لړ کښې هيڅ ليک لوست نۀ سره کوي، خالي د خولې پۀخبرو باندې

دغه تړول شرطونه پای ته ورسیږي. د مرکې کسان چې له دغه کوره روانیږي نو د توپک ډکان کوي د دې دپاره چې خلګ پۀ دغه رشته خبر شي، دغسې که کور ته یا خپل کلي ته را ورسیږي هم ډکان کوي چې ګوا موږ کامیاب شو".(2)

له پورتنۍ حوالې داسې معلومیږي چې هوکړه پۀیو وار د مرکې خلګ کوي تر دې له مخه د هوکړې پۀاړه هیڅ خبره نۀ وي شوې خو پۀپښتنو کښې داسې رسم نۀ وي د هوکړې دپاره مرکه ولاړه شي او بیا چې د نجلۍ مور او پلار یا نوره کورنۍ که راضي شي نو د مرکې کسانو ته خوږ شی یا شربت ورکړي، بلکې هوکړه چې د نجلۍ د کور کسان تر مرکې له مخه د هلک و کورنۍ ته خپله رضامندي ښکاره کړي بیا مرکه مازي د دې دپاره ورشي چې هغه خبره پخه کړي. خو پۀباقاعده توګه پۀدغه هوکړه کښې نکاح نۀ وي بلکې له دې هوکړې سره د نجلۍ کورنۍ ستن او تار ورکړي چې بیا یې کله زړۀ وغواړي نو نکاح نوې کړي، کله کله یې دغسې پرېږدي او دغه نکاح بیا د وادۀ پۀ ورځ وتړي. دغه هوکړه چې وشي نو پۀ دغه وخت کښې چې تر څو وادۀ یا کوژده دویم وار نۀ وي شوې نو دواړه کورنۍ اختیار لري که یې دا رشته نۀ وي خوښه بېرته یې ماتولی شي. خو بیا هم پښتانۀ تر خپله وسه دغه هوکړه هم نۀ ماتوي ځکه چې د پښتانۀ خبره هم قسم وي او پښتانۀ پۀخبره ډېر ټینګ ولاړ وي چې یو وار یې خبره وکړه بیا که هر ډول تاوان ور رسیږي هغه ته غاړه ږدي خو مګر له خپلې خبرې نۀ اوړي او وایي چې: ما بول کړی دی". بول د یو پاخه قول مترادف وي یا د پښتنو پۀرسم کښې بول هم د قسم معنا لري.

دغه د هوکړې رسم پۀبلوڅانو کښې هم شته او د دوی د هوکړې خپل مخصوص نوم دی چې بلوڅان ورته "میړ" وایي. د میړ پۀاړه راځي چې:

ترجمه:"د هلک د مور او پلار له خوا پۀدوو کسانو مشتمله یوه ټولۍ ځي چې پۀ بلوڅي اصطلاح کښې ورته بیړ وایي، دا د نجلۍ پلار ته که هغه مړ وي نو بیا یې وارثانو ته درخواست کوي پۀاصولي توګه د رشتې له منلو وروسته د مرکې

کسان د نجلۍ یا د هغې د وارثانو له خوا پهٔ کړل شویو شرطونو د هلک د پلار رضامندي تر لاسه کوي، دغه شرطونه پهٔ عامه توګه د ولور، بدل او د وادهٔ له خرڅونو سره تعلق لري. بلوڅان د وادهٔ پهٔ بدل کښې ولور هم اخلي، که څوک د نغد ولور ورکولو وس نهٔ لري نو هغه بیا د مخې پهٔتوګه رشته کوي چې هغه پهٔ دې توګه وي چې کوم څوک نجلۍ د خپل زوی دپاره غواړي نو د هغې نجلۍ پهٔ بدل کښې خپله لور یا د خپل قریب لور د دوستانو یو چا ته ورکړي، که د چا پهٔ کور کښې یا د نزدې قریب پهٔ کور کښې نجلۍ پیدا شوه نو هغه د دې ذمه دار وي چې نجلۍ به پهٔ بدل کښې ورکوي، دغه ډول رشتې ته نهه یا شکمي وئیل کښېږي".(3)

له دغه پورتنۍ حوالې پهٔښکاره معلومېږي چې دا د پښتنو غوندي هوکړه ده چې پهٔهغه کښې هم د دوستي کولو خبره کېږي هم د ولور او هم د نورو کورني ضرورتونو پهٔاړه هرڅهٔ معلومېږي. دغسې د پښتنو پهٔهوکړه کښې هم د ولور خبره او نورو کورني ضرورتونو خبره کېږي. دغسې پهٔبلوڅانو کښې دا دود دی چې که د هلک پلار او کورنۍ غریبه وي نو بیا د نجلۍ و کورنۍ ته د هغې نجلۍ پهٔبدل کښې بله نجلۍ د نجلۍ و ورور ته ورکوي کټ مټ دغه قدر هم د پښتنو او بلوڅانو سره مشترک دی چې پښتانهٔ هم کله پهٔ ولور باندې رشتې کوي او کله کله یې بیا پهٔ بدل باندې کوي چې پهٔ پښتنو کښې ورته ځینې خلګ بدل وایي او ځینې ورته ه ُخۍ وایي چې د هلک د کور له خوا یوه نجلۍ د هغې نجلۍ پهٔبدل کښې ورکوي کومه چې لومړی دغه هلک ته غواړي.

له دې معلومه شوه چې د ولور دود پهٔپښتنو او بلوڅانو دواړو کښې ډېر اهمیت لري ځکه خو د هوکړې پهٔ مجلس کښې لومړی پهٔ ولور خبرې کوي که پهٔ ولور نجلۍ غواړي نو د ولور سر معلوم کړي او که پهٔ بدل یې غواړي نو د نجلۍ پهٔ بدله کښې نجلۍ ورکوي. خو بیا هم مهر مثل یا شرعي مهر ټاکي. بې له ولوره رشته نهٔ پښتانهٔ کوي او نهٔ یې بلوڅان کوي، خو د ځینو پښتني قبیلو پهٔ اړه دا خبره مشهوره ده چې د نجلۍ ولور نهٔ اخلي لکه سلطان محمد صابر چې لیکي:

ترجمه: "حق مهر ته پښتانهٔ ولور یا مهار وایي، دغه رسم پهٔ پښتنو کښې پهٔ ډېر پابندي سره کېږي، که څهٔ هم د ښار کسانو دغه دود اوس پرېږدي خو پهٔکلیو

کښې اوس هم دغه دود روان دی. کاسیان یې پهٔ خپل مینځ کښې نهٔ اخلي. که د بلې قبیلې له کسانو سره رشته کوي نو بیا ډېر ولور اخلي، که چیرې د ناولدو کسانو له نجلۍ سره رشته کوي نو تر هرڅهٔ له مخه د نجلۍ کور ته ښځې ورځي د نجلۍ د شکل، شباهت، صحت او صلاحیت پهٔ باره کښې معلومات ترلاسه کوي. دغه رسم پهٔ بلوڅانو کښې هم شته. د ولور چې څومره پیسې ټاکل کېږي د هغه یوه برخه وارث ځان ته ږدي چې هغه ته خوراکې وئیل کېږي او پهٔ یوه برخه کښې د نجلۍ سرهٔ زر، جامې او د وادهٔ نور خرڅونه شامل وي".(4)

پهٔپورتنۍ حواله کښې د پښتنو او بلوڅانو د ځینو مشترکو دودونو پهٔځنګ کښې د پښتنو د یوې لویې قبیلې کاسیانو پهٔاړه دا خبره چې پهٔخپل مینځ کښې ولور نه سره اخلي البته د نورو قبیلو له خلکو ښهٔ ډېرې ولور اخلي پهٔدې اړه درمحمد کاسی لیکښې:

ترجمه: "پهٔکاسیانو کښې له پخوا راهیسې د ولور هیڅ دود نشته، د وادهٔ پهٔ وخت د ناوې پلارګنۍ د خپل وس مطابق سرهٔ زر او د کور شیان د ولور پهٔصورت کښې ورکوي پهٔ دوستیانو کښې د خپلو سیالو قبیلو سره د پابندي هیڅ خیال نهٔ ساتل کېږي خو د خاندان موزونیت او شرافت ته حتماً ګوري. ځکه چې د نن سبا نجونې د زیات تعلیم پهٔ ترلاسه کولو بوختې وي، ځکه خو پهٔکوزده او وادهٔ کښې لږ تاخیر کوي".(5)

د درمحمد کاسي له حوالې څرګنده شوه چې د کاسیانو پهٔخپل مینځ کښې هم د ولور دود ضرور شته خو شکل یې بدل دی، هغه داسې چې کاسیان د نجلۍ د ولور پهٔ بدله کښې د نجلۍ د کور ټول د ضرورت سامان ورکوي او له دې سره سره د نجلۍ پلارګنۍ هم لور ته ځینې شیان ورکوي. دا خو د نجلۍ دپاره لا ښهٔ شوه چې هم خسرګنۍ او هم پلارګنۍ سامان ورکوي. او دا سلطان محمد صابر دا خبره چې کاسیان له نورو قبیلو څخه ډېر ولور اخلي هم تردید کېږي ځکه چې درمحمد کاسی لیکې چې کاسیان له نورو قبیلو سره رشتې د سیالۍ او شرافت پهٔاعتبار کوي او دا خو د ټولو پښتنو او بلوڅانو پهٔ باره کښې راځي چې دوی لومړی د هلک او نجلۍ د برابرۍ خیال ساتي چې قبیلې یې یو له بل سره د سیالۍ پهٔ بنیاد سره سمې دي او یو له بل سره پهٔ عمر کښې برابر دي او یو له بل

سره پهٔ دینداري او دنیاداری کښې برابر دي او که نهٔ؟ چې دا ټول شیان یې سره برابر وي نو بیا پښتانهٔ او بلوڅان دواړه د خپلو بچېانو رشتې له مقابل لوري سره کوي. ځکه خو پروفیسر صاحبزاده حمید الله د ټولو پښتنو پهٔ باره کښې د ولور پهٔاړه دا رایه لري:

ترجمه: "پهٔپښتنو کښې له وادهٔ سره متعلق ډېر رسمونه وجود لري کوم چې له کلونو را روان دي، کوم څوک چې بې تعلیمه دي هغه د دغو دودونو پهٔباقاعدګي سره پابندي کوي، مهر ته پهٔ پښتو کښې ولور وایي، د کوم پهٔ باره کښې چې له پښتنو پرته نورو خلکو ډول ډول نظریات وړاندې کړي دي. شرعي مهر تر لس درهمو کم نهٔ وي، د زیات هیڅ قید نشته، پښتانهٔ هم پهٔدغه عمل کوي خو خالي دومره فرق یې دی چې ولور شرعي منکوحه یعني د نجلۍ پر ځای پهٔ خپل ضرورت کښې استعمالوي، هسې خو د ولور کوچنۍ برخه تقریباً هر پښتون پهٔ نجلۍ خرڅ کوي یعني د نجلۍ دپاره د کور سامان، سرهٔ زر او جامې پهٔ دغه پیسو اخلي".(6).

دا چې پښتانهٔ او بلوڅان ولور د څهٔ دپاره اخلي؟ او چې یې واخلي بیا یې څنګه صرف کوي نو پهٔ دې اړه چې اسلامي تعلیماتو او شریعت ولور د کوم مقصد دپاره ټاکلی دی د هغه خیال پښتانهٔ او بلوڅان پهٔ بشپړ ډول ساتي خو پهٔ اوسنیو حالاتو کښې پهٔ بلوڅانو کښې هم او پهٔ پښتنو کښې هم دغه ولور د نجلۍ کورنۍ پهٔ دې نیت اخلي چې څهٔ ورباندې ولګوي او څهٔ ولور ځینې وخوري. د مثال پهٔتوګه لومړی د بلوڅانو د ولور اخستو پهٔاړه خبرې کوو چې:

ترجمه: "تر کومه چې د ولور تعلق دی نو د دې بنیادي مقصد دا وي چې پهٔ دغه پیسو د نجلۍ د وادهٔ سامان، جامې او سرهٔ زر پلارګنۍ ورته اخلي، ځکه چې مسکښېن سړی د نجلۍ د سامان پهٔاخستلو کښې تر پور لاندې نهٔ شي. د دغه دود پهٔ پس منظر کښې د ګټې یا نورو شیانو جذبه یو مخ ښکاره وي، خو له بدغه مرغه اقتصادي حالاتو پهٔ دغه دود کښې ډېرې ناوړتیاوې پیدا کړې دي. او خلکو ولور سوکه سوکه زیاتاوهٔ او تر دې حده یې را ورساوهٔ چې د میانه طبقې له وس دباندې شو، او دغسې پهٔ دغه رسم کښې د رحم، انصاف، رواداري او معقولیت

ځای حرص او خود غرضۍ او طمعې لالچ ونیوئ او اوس دغه روا دود د یو ناروا دود شکل اختیار کړ".(7)

پهٔدې کښې شک نشته چې پښتانهٔ او بلوڅان له عمرو راهسې د وادهٔ دودونه له اسلامي تعلیماتو سر سم کوي، تر اسلام له مخه به شاید د پښتنو او بلوڅانو ډېر رسمونه د شریعت خلاف را روان وو خو چې کله پښتانهٔ او بلوڅان پهٔ اسلام مشرف شوي دي نو بیا یې تر خپله وسه د اسلامي تعلیماتو له اهمیته انکار نهٔ پهٔارادي توګه او نهٔ پهٔ غیر ارادي توګه کړی دی. خو د پښتنو او بلوڅانو د وادهٔ او د ولور پهٔ باره کښې ځینې ناوړه دودونه شته کوم چې د اسلامي تعلیماتو پهٔ رڼا کښې سم نهٔ ښکاري او د ټولنې پهٔ تاوان تمامیږي، خو دغه دودونه له عمرو عمرو راهیسي را روان دي او سوکه سوکه پښتانهٔ او بلوڅان دواړه قامونه دا هڅه کوي چې دغه ناوړه دودونه له منځه یوسي. لکه د وادهٔ پهٔ ورځ چې ماښام پهٔ پښتنو کښې نکاح تړل کېږي دغسې پهٔ بلوڅانو کښې هم د وادهٔ پهٔ ماښام نکاح تړل کېږي. له نکاح وروسته بیا بلوڅان داسې کوي:

ترجمه: "بیا چې نکاح وشي نو خلک و روان وي رخصت کېږي، بیا یو دوه قریبان زوم بوزي د ناوې د کوټې تر چوکاټه پورې یې ورولي او دوی له دغه ځایه رخصت شي، ځکه چې زوم به خپلې کوټې ته یوازې ځي، یا به له دهٔ سره د بچیانو خاوند یا سپین ږیری خوک تلای شي. دی چې کله د کوټې چوکاټ ته ورسیږي نو له دننه خوا ور ورته وتړل شي د نجلۍ مور او نورې خویندې ور ورته وتړي، د یادونې وړ ده چې د زوم تر تګ له مخه له ناوې سره موجودې نجونې رخصت شي پهٔدغه موقع د دوی ضرورت پاته نهٔ شي، زوم پهٔچوکاټ باندې یوازې پرېږدي هغه ور ور وټکوي او وایي چې د خدای دپاره ور را خلاص کړئ او ما دننه درپرېږدئ".(8)

پهٔپورتنۍ حواله کښې د پښتنو او بلوڅانو پهٔدغه دود کښې فرق ښځي ډېر دی هغه دا چې بلوڅان د وادهٔ پهٔ ماښام تر له مخه د زوم پهٔکوټه کښې ناوې او ورسره د هغې تربورونه ناست وي او چې د وادهٔ والا خونې ته ورځي نو دوئ یې نهٔ ورپرېږدي، بیا زوم منت و سماجت کوي، له څهٔ پرېکړې وروسته بیا زوم ته دروازه ور خلاصوي، پهٔدې اړه پښتانهٔ د زوم کوټې ته تر ناوې له مخه زوم ورولي او داسې

د شپې خوا ته بیا د ناوې مور وي یا بله داسې سپین سرې ښځه چې ورسره وي د زوم کوټې ته ناوې ورولي او پۀ دروازه یې ور دننه کړي. نۀ د زوم له خوا منت او سماجت وي او نۀ د ناوې له خوا بس له هغه وروسته د ناوې او د زوم خپل ژوند وي او پۀ هر ډول چې وي روان وي. خو عموماً زوم له ناوې تر هرڅۀ له مخه د لمانځۀ او د قرآن کریم د زده کړې پۀ باره کښې پوښتنې کوي او بیا ورته نور داسې نصیحتونه کوي چې د دوی د ښۀ ژوند باعث ګرځي.

خو پۀ بلوڅانو کښې ځینې داسې رسمونه شته چې هغه پښوا ډېر زیات وو اوس سوکه سوکه له منځه ځي. د وخت له تېرېدو سره چې انساني حواس د ښۀ او بد پۀتوپیر پوه شي نو هڅه کوي چې داسې دودونه له منځه یوسي کوم چې د ټولنې دپاره د تاوان باعث وي. دغسې پۀ پښتنو کښې هم ځینې دودونه شته چې هغه پښوا بېخي ډېر وو اوس سوکه سوکه له منځه ځي خو پۀځینو قبیلو او سیمو کښې اوس هم داسې خرافات شته چې پۀکولو یې اوس ځینې پښتانۀ شرمیږي. لکه:

د وادۀ پۀ ورځ چې ماخوستن نکاح تړل کېږي نو پۀدغه وخت کښې به پښوا زوم ورک شو او بیا به خلګ ورپسې ګرځېدل. کله کله به دا سلسله تر دریو شپو پورې روانه وه درې ورځې وروسته به زوم پیدا شو بیا به یې نکاح ورتړله. وروسته دا دود کمزوری شو مګر بیا به هم زوم ورک ؤ خو د نیمي شپې خوا ته به یې یوۀ ملګري ته ځای ورښودلی ؤ چې زه د پلانکې پۀکور کښې یم. خو پۀاوسنیو حالاتو کښې دغه دود بېخي نشته او پۀ هغه ماخوستن زوم هم د خلګو پۀخدمت کښې لګیا وي، خلګو ته ډوډۍ ورکوي او وروسته د نکاح پۀ وخت هم هلته وي او پۀاسانه سره نکاح وتړل شي. دغسې یو بل ناوړه دود پۀ پښتنو کښې دا هم پښوا ؤ چې کله به نکاح تړل کېده نو به زوم او ناوې د ایجاب او قبول پۀ وخت "هو" نه کوله او دغه سلسله به تر نیمې شپې پورې ورسېده کله کله به داسې هم وشو چې د ناوې ورور یا بل داسې نزدې قریب به د اقرار نۀ کولو له کبله ووهله، دغسې به زوم هم د ایجاب او قبول پۀ وخت هوکړه نۀ کوله که پۀ لومړي وار ناوې یا زوم ووئیل چې هو زما قبوله وه قبوله مې ده نو به د خلګو له خوا پېغور ورکول کېدۀ چې څومره بې شرمه ده یا څومره بې شرمه دی. خو پۀ اوس وخت کښې دا دود

هم له منځه تللی دی او پهٔلومړي ځل ناوې یا زوم پهٔ خپله د ایجاب او قبول جواب ورکړي یا پلار یا بل قریب د ځان وکېل جوړ کړي او هغه دغه مسئله پهٔاسانه حل کړي.

د کونډې ښځې د بل وادهٔ پهٔ باره کښې هم د پښتنو او بلوڅانو دود یو ډول را روان دی او تر خپله وسه د کونډې دویم وار ودول ښهٔ نهٔ ګڼي او دا عیب ګڼي چې یوه د پښتانهٔ یا بلوڅ پهٔ مېنه پاته شوې دي بل څوک وادهٔ کړي که څهٔ هم پهٔاسلامي تعلیماتو کښې دا هیڅ عیب نهٔ دی بلکې د ثواب باعث ګرځي خو پښتانهٔ او بلوڅان کونډه بل چا ته ودول نهٔ شي زغملی، پهٔدغه اړه قیام الدین خادم لیکي:

"د همدغه محبت له کبله پښتنه ښځه له مرګ نه وروسته بل مېړهٔ ته زړهٔ نهٔ ښهٔ کوي که یو کوچنی زوی ترې نه پاتې وي عموماً کونډتوب خوښوي او خپل باقي عمر د هم هغه مېړه پهٔ نامه تېروي او پس له مرګه له خپل مېړه سره وفاداري ترسره کوي. د مېړه کورنۍ هم د هغې مراعات او حمایت کوي او پهٔدرنه سترګه ورته ګوري. که کومه یوه کونډه د اولاد د نهٔ لرلو پهٔ وجه یا کوم بل سبب د بل مېړه خواهش وکړي نو د پخواني مېړه پهٔکورنۍ کښې هر څوک چې مېړه ته یې قریب وي پهٔ نکاح سره یې قبلوي د هغې کورنۍ نهٔ لري پهٔ بل قوم کښې د مېړه حق نهٔ لري او که سره له دې پهٔ بل قوم کښې مېړه وکړي نو هغه مېړه یې د پخواني مېړه قوم او نژدې خپلوانو ته هغه پور ورکوي چې د پښتنو پهٔ ملي قانون کښې ورته مقرر شوی وي".(9)

پهٔ بلوڅانو کښې دغه دود شته چې کله پهٔدوی کښې یوه ښځه کونډه شي نو د بل مېړه نو که هغه ښځه ځوانه نهٔ وي نو د بل مېړه خیال پهٔذهن کښې نهٔ ساتي که ځوانه وي نو بیا له بل چا سره وادهٔ کوي. پهٔدې اړه راځي چې:

ترجمه: "ځیني ښځې د خپل مېړه له مړینې وروسته دویم وار نکاح کول نهٔ خوښوي، خو که ځوانه ښځه کونډه شي نو د هغې اکثرا وخت وادهٔ کوي، کومې پخې ښځې چې تر نیمی عمر تېرې شوې وي د خپل مېړه له مړینې وروسته بل وادهٔ نهٔ خوښوي هغه ټول عمر رنګینې جامې اغوندي، او پهٔعامه توګه پهٔسپینو

جامو کښې ژوند کوي، دغسې ځوانې ښځې چې تر څو يې دويم وادهٔ نهٔ وي شوی تر هغو پهٔسپينو جامو کښې ژوند کوي".(10)

د پښتنو او بلوڅانو دغه دود که څهٔ هم د روايت او قامي رويې له کبله دا څرګندوي چې دوی د خپلو رواياتو او عاداتو ارزښت هر وخت پهٔذهن کښې لري، که څهٔ هم د تکليف او نااميدۍ ژوند تېروي خو پهٔ قامي اصولونو باندې ټينګ ولاړ وي، مګر دغه دود د انساني اقدارو پهٔ لحاظ هيڅ اهميت نهٔ لري ځکه چې انسان له اشرف المخلوقات څخه شمېرل کېږي او اشرف المخلوقات د قامي رواياتو له کبله ستونځمن کول قامي او انساني جرم دی. قامي روايات، اقدار او اصول له وخته سره بدلېږي را بدلېږي ځکه خو پهٔاوسني وخت کښې دغه دود هم سوکه سوکه له منځه ځي او پښتانهٔ او بلوڅان دواړه د زمانې او حالاتو له غوښتنو سره سم ځينې ناوړه دودونه پرېږدي او مخ پهٔ وړاندې روان دي.

**نتيجه**:

د زمانې له غوښتنو او حالاتو سره د ځان برابرولو هدايت پنځه سوه کاله مخکې د پښتو ژبې صوفي او بزرګ شاعر رحمان بابا هم کړی دی چې ځينې محققين يې له دنيا بېزاره د کونج نشينۍ شاعر بولي مګر پهٔحقيقت کښې رحمان بابا هم وايي چې که زمانه ستا پهٔ قدم قدم نهٔ ږدي نو تهٔ د زمانې پهٔ قدم قدم کښېږده، ځکه پهٔ دغه مقاله کښې د پښتنو او بلوڅانو ډېر ښهٔ دودونه چې د انسانيت پهٔ ګټه تمامېږي او ډېر ناوړه دودونه چې د انسان دپاره هيڅ اهميت نهٔ لري را يو ځای شوي دي او د محققينو ځينې داسې تېروتنې هم پهٔ ګوته شوي دي چې هغه پهٔ اوسني وخت کښې نهٔ پهٔ بلوڅانو کښې شته او نهٔ پهٔ پښتنو کښې. دا کېدای شي چې يو وخت به ځينې دودونه وو چې دواړو قامونو به پهٔ پټو سترګو منلي وي خو هغه پهٔاوسني وخت کښې هيڅ تصور نهٔ لري او زموږ دغه محققين له ډېر پخواني وخت سره تعلق نهٔ لري بلکې د اوس وخت محققين دي چې د قامي رواياتو او اصولو څېړنه يې پهٔ زاړهٔ دوربين کښې کړې ده. د مثال پهٔتوګه د سلطان محمد صابر د کاسيانو د ولور نهٔ اخستلو خبره چې يې کړې ده. پهٔحقيقت کښې د دې هيڅ تصور نهٔ پهٔکاسيانو کښې شته او نهٔ پهٔنورو پښتني قبيلو يا بلوڅانو کښې شته. د دې مقالې اصل مدعا هم دغه ده چې داسې ذهن نهٔ منونکې روايتونه

چې د تاریخ پاڼو ته سپارل شوي دي له منځه یوسي او د پښتنو او بلوڅانو د ځینو دودونو صحیح اړخ ښکاره کړي.

# حوالي

(1) ایڈورڈ، ای، آلیور، پٹھان اور بلوچ، مترجم پروفیسر ایم، انور رومان، نساء ٹریڈرز 6 براؤن جیمخانہ بلڈنگ، پٹیل روڈ کوئٹہ، 1984ء، م44.

(2) صابر، سلطان محمد، ثقافت اور ادب وادی بولان میں،(پشتون ثقافت) اسلامیہ پریس کوئٹہ، نومبر1966ء، م72.

(3) رمضان، ملک محمد، ثقافت اور ادب وادی بولان میں،(بلوچی ثقافت) اسلامیہ پریس کوئٹہ، نومبر1966ء، م184، 185.

(4)صابر، سلطان محمد، ثقافت اور ادب وادی بولان میں م74.

(5)کاسی، در محمد، کوئٹہ اور کاسی، سوئم ایڈیشن، قلات پریس کوئٹہ، 2012ء، 215

(6)حمید اللہ، صاحبزادہ، پشتونیات، دویم یڈیشن، انجمن ترقی پشتو، پشین، 1994ء، 7.

(7)رمضان، ملک محمد، ثقافت اور ادب وادی بولان میں، 185.

(8)ڈینس بری، براہوی رسوم، ترجمہ کامل القادری، علی پرنٹرز، پیسہ اخبار، لاہور، 1984ء113،

(9) خادم،قیام الدین، پښتونولي، دويم چاپ، پښتو ادبي غورځنګ کوټه، 2002ء، مخ106، 107.

(10)رمضان، ملک محمد، ثقافت اور ادب وادی بولان میں، م191.